# د حضرت بلال رضی الله عنه

# د اذان ذکر خیر

**02-July-2026**

(For Islamic Brothers)

هفته وار د سنتو ډکه اجتماع کښې کیدونکې

د سنتو ډک بیان



پۀ 2 جولائي، کال 2026ء (بمطابق: 17 مُحَرَّم شریف، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د حضرت بِلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اذان ذِکرِ خیر

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- بلاله مونږ ته د اذان پۀ ذریعه راحت راکړه!
- د اذان نه مخکښې او وروستو معمولات
- کله چې د بلال رَضِیَ اللہُ عَـنْہُ د اذان نقل اوکړے شو
- تقویٰ د عزت معیار دے

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِیَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د اخري نبي، مكي مَدَني** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د قیامت پهٔ ورځ به پهٔ خلقو كښې ما ته د ټولو نه زیات نزدې هٔغه كَس وي، كوم چې پهٔ ما باندې د ټولو نه زیات درود شریف لولي- [1]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** درودِ پاک څومره اعلیٰ نیکي ده---!! د دې پهٔ برکت سره د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نزدیکت نصیب كیږي- د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې **حدیثِ پاک** پهٔ شرح كښې فرمائي: د قیامت پهٔ ورځ به د ټولو نه پهٔ سكون كښې هغه كسوي څوک چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وي او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملګرتیا یعني قربت (نزدې والي) د نصیب كېدو ذریعه ډېر درود شریف وئیل دي- د دې حدیثِ پاک نه معلومه شوه چې درود شریف بهترینه نیكي ده ولې‌چې پهٔ ټولو نیكو سره جَنَّت نصیب

---

[1]... ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلوة...الخ، صفحه:144، حدیث:484۔

کیږي او د درودِ پاک د لوستلو سره د بزمِ جَنَّت سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نصیب کیږي۔ (1)

حشر میں کیا کیا مزے وارفتگی کے لُوں رضا | لَوٹ جاؤں پا کے وہ دامانِ عالی ہاتھ میں (2)

وضاحت: د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د عشق جوش ته وګورئ! فرمائي: اے رضاؔ د قیامت پهٔ ورځ به د عشقِ رسول او د محبت خوندونه اخلم، کله چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رحمت جولۍ لاس ته راشي نو پهٔ عشق او محبت کښې به مست یاني کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پهٔ اَدب به کښېنم ◈ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحه:100 بتغیر قلیل۔

[2]… حدائقِ بخشش، صفحه:104۔

[3]… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** په 20 مُحَرَّم شریف د عظیم عاشقِ رسول حضرت بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د وصال ورځ نماځلے شي- په دې مناسبت سره به نن مونږ د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ذِکرِ خیر کولو سعادت حاصلوو-

## د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مختصر تعارف

◈ زمونږه آقا حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مشهور صحابی رَسُول دے ◈ د هغوئي نوم مبارک: **بِلال** او لقب يېدے: **مُؤَذِّنِ رَسُول** ◈ بلکې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته **سَيِّدُ الْمُؤَذِّنِيْن** (***leader of the all Muezzins***)يعني د ټولو اذان کوونکو د سردار) خطاب ورکړو-[1] ◈ حضرت بلالِ حبشی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **سَابِقُ الاِسلام** دے يعني هغوئي هم د اِسلام په شروع کښې اِيمان قبول کړے وو ◈ د غلامۍ نه د ازادۍ نصيب کيدو نه پس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري وصال پورې هغوئي په دربارِرسالت کښې حاضر ◈ او سيدل هغوئي **مُؤَذِّنِ رسول** هم دے او **خازِنِ مصطفٰے** (***Treasurer***) هم دے يعني رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مالي معاملو د کتنې ذمه واري هم هغوئي ته عطا کړې وه ◈ د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري وصال نه پس حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شام ته تشريف يوړلو او د اخره پورې هم هلته وو ◈ حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په 20 هجری کښې د دې فاني دُنيا نه سفر اوکړو- د هغوئي مزار مبارک په شام کښې دے-[2]

---

[1] …سير اعلام النبلاء، جلد:3، صفحه:220۔

[2] …أُسد الغابه، جلد:1، صفحه:415 و416، ملتقطاً۔

| | |
|---|---|
| اسلام کا جمال ہے تیرے جمال سے | سیرت تری ہے دِین کی اِک ترجماں بلال |
| کیا کیا ستم نہ ڈھائے تھے تجھ پر اُمَیَّہ نے | اقرارِ حق سے پھسلی نہ تیری زباں بلال |
| مکہ اَحد اَحد کی صداؤں سے گونج اٹھا | خورشیدِ انقلاب تھا تیرا بیاں بلال |
| بُوبکر نے خرید کے ایسے بڑھائے دام | دولت اگر زمیں ہے تو آسماں بلال |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ شان کښې آيتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د هغوئي پۀ شان نور صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم کومو چې مخکښې د غلامۍ ژوند تېر کړے وو، د هغوئي پۀ شان کښې دا آيت نازل شو- [1]

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَطْرُدِ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ (پاره7، سورۀ انعام:52) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغه خلق مۀ جدا کوه کوم چې سحر او ماښام د خپل رب د رضا غوښتلو د پاره هغه يادوي- |

پۀ دې آيت مبارک کښې الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حُکم اوکړو چې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو دا صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم هيڅکله هم د خپل دربار نۀ مۀ لرې کوئ، دا خو هغه نېکان او پارسا خلق دي کوم چې سحر او ماښام د الله پاک عبادت کوي او عبادت هم څنګه---؟ بل ته د ښودلو د پاره نۀ، د ريا والا نۀ، د دُنيائي لالچ والا عبادت نۀ بلکې دوئي عبادت کوي او يُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ پۀ خپل دې عبادت سره صرف د الله

[1]... تفسير قرطبی، پاره:7، سورۀ انعام، زيرِ آيت:52، جلد:3، صفحه:228۔

پاک رضا غواړي۔(1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! د دې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم پهٔ شان کښې اللّٰه پاک نُور اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِذَا جَآءَكَ الَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِاٰیٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَیْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ (پاره7، سورهٔ انعام:52) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله ستاسو په بارګاه کښې هغه خلق حاضر وي کوم نو هغوی ته وفرمایئ: چې په زمونږ په آیتونو ایمان راوړی تاسو دې سلام وي. ستاسو رب په خپله ذمه د کرم باندی رحمت لازم کړی دی |

یعنې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا پاک خلق (یعنې حضرت بلال، حضرت صُهیب رُومي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما وغیره) چې کله ستاسو پهٔ خِدمت کښې حاضر شي نو دوئي له عزت ورکوئ! د دوئي سره پهٔ سلام کښې وړومبے والے کوئ! دوئي له دا زیرے ورکړئ چې اللّٰه پاک پهٔ فضل کولو سرهٔ پهٔ خپل ذِمهٔ کرم باندې رحمت لازم کړے دے۔(2)

حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: کله چې دا آیتونه نازل شول نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ راوبللو، مونږه حاضر شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د دې آیتونو تِلاوت کولو، پهٔ هغه ورځ رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ دومره ځان ته نزدې کښېنولو چې زمونږه زنګونان به د جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زنګونانو سره جنګېدل۔(3)

---

1 …تفسیر طبری، پاره:7، سورهٔ انعام، زیرِ آیت:52، جلد:5، صفحه:199، رقم:13261 خلاصةً۔

2 …تفسیر صراط الجنان، پاره:7، سورهٔ انعام، زیرِ آیت:54، جلد:3، صفحه:118، خلاصةً۔

3 …ابن ماجه، کتاب الزہد، باب مجالسة الفقراء، صفحه:671، حدیث:4127ملخصاً۔

جب تک بِکے نہ تھے، کوئی پوچھتا نہ تھا | آپ نے خرید کر ہمیں انمول کر دیا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اِسلامي دُنیا وړومبے مُؤَذِن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلامي دُنیا وړومبے مؤذن دے- کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدینے منورې ته تشریف راوړو، دلته نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مسجدِ نبوي شریف جوړ کړو، اوس د مسلمانانو د پاره یو مرکز خو جوړ شوے وو خو د نــمونځ په وخت د خلقو د رابللو د پاره څۀ واضحه طریقه د ھغه وخته پورې موجوده نۀ وه- نو د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او حضرت عبد الله بن زید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته د خوب په ذریعه اذان وښودلے شو- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله د دې دواړو حضراتو خوبونه واورېدل نو وه یــې فرمائیل:

يَا بِلَالُ قُمْ فَانْظُرْ مَا يَأْمُرُكَ بِهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ زَيْدٍ فَافْعَلْهُ

ترجمه: بلاله--!! پاسه--!! څۀ چې عبد الله بن زید وائي، د هغې مطابق اذان اوکړه-(1)

د اِسلام په تاریخ کښې دا وړومبے اذان وو کوم چې حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوکړو-

## بلاله موږ ته د اذان په ذریعه راحت راکړه!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وړومبے خو اذان پخپله د الله پاک او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

[1]...ابو داود، کتاب الصلاة، باب بدء الاذان، صفحه:92، حدیث:498-

وَسَلَّم ذِکردے، بیا د دې سره د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اِخلاص او د عشقِ رسول زړۀ راښکنه هم شامليږي، د دې سره سره د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اواز مبارک هسې هم ډېر ښکلے او د سوز نه ډک وو، نو چې کله به د مدينے منورې پۀ کوڅو کښې د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اذان شروع شو نو پۀ زړونو کښې به د اِيمان تازګي راوچتيدله-

**پۀ يو حديثِ پاک کښې دي:** خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله غمژن کېدلو نو حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته به يـې فرمائيل:

**قُمْ يَا بِلَالُ، فَأَرِحْنَا بِالصَّلَاةِ**

**ترجمه:** بلاله! پاسه---!! د نـمونځ د پاره اذان اوکړه او زمونږ زړونو ته راحت راورسوه---!!(1)

حضرت مولانا رُوم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په وضاحت کښې فرمائي: اصل خبره دا ده چې حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ډير زيات باکماله او بې مثاله شخصيت وو، د هغوئي په مبارک زړۀ کښې د اللّٰه پاک او رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير زيات محبت وو، لِهٰذا د محبتِ اِلٰهي نه ډک زړۀ نه وتلې اذانِ بلالي اوريدو باندې به خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راحت موندلو.

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې د بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څومره عظيم شان دے، د هغوئي د اذان اواز به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړۀ د

---

[1]...ابو داود، کتاب الادب، باب فی صلاة العتمة، صفحه:780، حديث:4986-

سکون ذریعه جوړېدله-

سُنا ہے نام میں اثرات آ ہی جاتے ہیں | مگر بلال کے جیسا کوئی بِلال نہیں

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اذان نه مخکښې او وروستو معمولات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان کولو انداز هم ډېر نا اشنا او ښکلے وو- پۀ روایتونو کښې دي: چې د سحر پۀ وخت به حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان کولو ځائے ته د وخت نه مخکښې رسېدلو، هلته به کېناستو او د سحر د وخت د شروع کېدو اِنتظار به يې کولو، کله چې به وخت شو نو وړومبے به يې داسې دُعا کوله: اے الله پاکه! زۀ ستا حمد کووم او ستا نه مدد غواړم، پۀ دې خبره باندې چې قرېش هدايت قبول کړي او ستا د دِين خدمتګاره جوړ شي- د دې نه پس به يې اذان کولو-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معمول مبارک وو چې د تهجدو د نـمونځ کولو نه پس به يې لږ ارام فرمائيلو- حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې به کله اذان کولو نو د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دروازې ته به حاضرېدلو، عرض به يې کولو: اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ! بيا به يې عرض کولو: اَلصَّلَاۃُ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ! يعني يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پۀ تاسو باندې دې سلام وي، يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د سحر د نـمونځ وخت شوے دے-(1)

[1] ...امتناع الاسماع، جلد:10، صفحه:131-

سُبْحٰنَ الله! تاسو غور اوکړئ چې نن پۀ دُنیا کښې پۀ لکونو نۀ بلکې پۀ کروړونو اذان کوونکي موجود دي خو د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دې نصیب نه قربان شم! د اذان نه پس د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې د دیدن کولو سعات صرف حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته حاصل وو-

خُوشا وه وقت که طیبه مقام تها تیرا | خُوشا وه وقت که دِیدار عام تها تیرا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! بعضې وخت شیطان ذهنونو ته وسوسې اچوي چې د اذان نه مخکښې او وروستو صلوٰة او سلام ولې لوستلے کیږي--!! تاسو د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ انداز مبارک ته وګورئ--!! هغوئي به اذان کولو، د هغې نه پس به یې صرف صلوٰة او سلام نۀ عرض کولو بلکې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دروازې مبارکې ته به حاضرېدلو او سلام به یې پېش کولو-

آه! نن زمونږه داسې نصیبونه چرته دي--؟ مونږ اذان خو کولے شو خو د هغې نه پس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دروازې ته حاضرېدل او د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ شان سلام نشو عرض کولے، لهذا د سوز بلال د فېضان د موندلو، د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ادا د ادا کولو او زړۀ ته د سکون رسولو د پاره د لرې نه پۀ خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې صلوٰة او سلام عرض کوو-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## کله چې د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان نقل اوکړے شو

د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم څومره ځانګړے شان دے- د هغوئي پۀ صرف نقل کولو

سره څۀ څۀ برکتونه نصیب کیږي، روایت واورئ! حضرت ابو محدوره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مکے مکرمې موذن وو۔

لکه څنګه چې به حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ مدینه منوره کښې اذانونه کول، حضرت ابو مَحدورَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به پۀ مکه مکرمه کښې اذانونه کول۔ د حضرت ابو مَحدورَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دا سعادت، دا ذمه واري څنګه نصیب شو، هغوئي د دې واقعه پخپله بیانکو ي، هُغه وخت د حضرت ابو مَحدورَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عمر ډیر کم وو، لا اِسلام یـې هم نۀ وو قبول کړے، د مسلمانانو اداګاني او معمولات به یـې خوښول۔

فرمائي د فتح مکے نه پس خبره ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سفر کښې وو، پۀ لاره کښې پۀ یو ځائے کښې د نـمونځ وخت شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته د اذان کولو حکم اوکړو۔

حضرت ابو مَحدورَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: مونږ واړه ماشومان ورسره پۀ خوا تیریدو، نو ما چې کله د بلال اذان واوریدو نو (پۀ غیر مسلمه کورنۍ کښې مې روزنه پالنه شوې وه)، دې وجې نهٔما د ټوقو پۀ نیت د بلال د اذان نقل شروع کړو۔

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله زما اواز واوریدو نو زۀ یـې خپل خِدمت ته وغوښتم۔ ( حضرت ابو مَحدورَه ویریدو چې پته نۀ لګي څۀ سزا به راته میلاؤیږي) خو

ڈر تھا کہ عصیاں کی سزا، اب ہوگی یا روزِ جزاء
دِی اُن کی رحمت نے صدا، یہ بھی نہیں، وہ بھی نہیں (1)

---

[1]...حدائقِ بخشش، صفحه:110۔

حضرت ابو مَحدورَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زۀ خپل ځان ته نزدې كړم او وه يـې فرمائيل:

قُمْ فَاَذِّنْ

**ترجمه:** ودرېږه او اذان اوكړه---!!

وائي چې زما زړۀ خو نۀ غوښتل خو زۀ ودرېدم، اذان مې شروع كړو، په مينځ مينځ كښې چې به رانه چرته الفاظ هېرېدل، نبي كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ما ته وئيل- كله چې ما اذان مكمل كړو نو نبي كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته پۀ انعام كښې د سرو نه ډكه يوه‌تيلۍ را عطا كړله او زما پۀ تندي باندې يـې لاس كېښودلو او پۀ مخ باندې يـې راښكلو او د سينې پورې يـې راوړلو-

سُبْحٰنَ الله! دا د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معجزه لرونكو لاسونو بركت وو چې زما پۀ زړۀ كښې چې كوم د اِسلام او د مسلمانانو نه نفرت وو، ټول هغه وخت ختم شو او ما كلمه ووئيله او مسلمان شوم- فرمائي: د كلمې وئيلو نه پس ما عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما د مكے موذن مقرر كړئ! نبي كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما خواست قبول كړو او زۀ يـې د مكے موذن جوړ كړم-[1]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** وئيلے كيږي چې د ښو خلقو نقل هم ښه وي- د حضرت ابو مَحدورَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغه نقل فېضان نصيب شو- هغوئي اګر چې د زړۀ د نفرت پۀ وجه نقل كړے وو خو نقل خو يـې د الله پاک د محبوب او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د

---

[1]…سيرت حلبيه، باب ذكر مغازيه، فتح مكة شرفها الله تعالیٰ، جلد:3، صفحه:145-

محبوب حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ کړے وو- بس هم دغه نقل کولو یــې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم توجه مبارکه خپل اړخ ته کړه- بیا یــې څۀ څۀ برکتونه نصیب شول---!

سُبۡحٰنَ اللّٰه! د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفقتونه یــې هم نصیب شول، د لاسونو مبارکو برکتونه یــې هم نصیب شول، اِیمان یــې هم نصیب شو او د مکے مکرمې د حرم د موذن جوړېدو سعادت یــې هم نصیب شو-

## د کعبې پۀ چت باندې اذان

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اذانونو ځانګړے شان دے- هغوئي یو داسې اذان هم کړے دے چې د داسې اذان کولو سعادت د هغوئي نه علاوه چا تههم نۀ دے نصیب شوے- **پۀ روایتونو کښې دي:** د فتح مکے موقع وه، هغه ښار د چرته نه چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هجرت کړے وو هغه کوڅې چرته چې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جانثارانو یعني پۀ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم باندې ډېر ظلمونه او ستمونه شوي وو، هغه کورونه، هغه محلې چرته چې د مسلمانانو ژوند ګران کړے شوے وو، پۀ 9 هجری (یعني د مدینے منورې د هجرت نه 9 کاله پس) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ هغه کوڅو، پۀ هغه محلو، هغه ښار مکے مکرمې ته د فاتح پۀ توګه تشریف راوړلو، دا پاک ښار یــې د کفر او د شرک د ګند نه پاک کړو، کعبه مبارکه کومه چې د جهالت پۀ زمانه کښې پۀ شرک ګنده کړے شوې وه، یو ځلې بیا هغه د توحید مرکز جوړ کړے شو، پۀ دې موقع باندې د مکې لوئي لوئي سرداران موجود وو- داسې وواېئ چې د ټولې مکے والؤ سترګې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته وې- پۀ دې کښې د ماسپښین د نــمونځ وخت شو-

بیا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل ربنتوني عاشق حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ ته هٔغه شرف، هٔغه عظمت عطا کړو کوم چې د دې نه مخکښې نهٔ د چا نصیب شوے وو او نهٔ د هغوئي نه پس د چا نصیب شو- نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے بلاله---!! نن (د کعبې مخې ته ودریږه نا بلکې) د کعبې پهٔ چت باندې ودرېږه او اذان اوکړه---!!

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے، هٔغه حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ ◈ کوم چې پهٔ دې د مکے مکرمې پهٔ ښار کښې د غلامۍ پهٔ زنځیرونو باندې تړلے شوے وو ◈ کوم چې به پهٔ دې مکه مکرمه کښې پهٔ توده شګه باندې څملولے او د پاسه به پرې درنې ګټې اېښودے شوې ◈ څوک چې به د مکے مکرمې پهٔ کوڅو کښې پهٔ کاڼو باندې وېشتلے کېدلو، هم هٔغه حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ ---!! نن د کعبې چت ته ختلے دے-

دا ګویا د مکے مکرمې ټولو سردارانو ته یو خاموشه پیغام وو چې اے د غیر مسلمو سردارانو---!! وګورئ عزت د الله پاک پهٔ لاس کښې دے، دا د غلامۍ او د ازادۍ، حبشي او رومي فرق دا تاسو پخپله جوړ کړے دے، ګني پهٔ حقیقت کښې ټول د الله پاک بندګان دي، ټول د حضرت آدم او د حوأ علَیهِما السَّلام پهٔ اولاد کښې دي- د عزتونو معیار رنګ او نسل نهٔ بلکې د الله پاک پهٔ بارګاه کښې مقبولیت دے، څوک چې د الله پاک پهٔ بارګاه کښې مقبول وي، څوک چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جولی ونیسي، که د نسل پهٔ لحاظ سره حبشي ولې نهٔ وي، الله او رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ته داسې عزت ورکوي چې لوئې لوئې سردار هم د هغوئې عظمت ته ډېر پهٔ احتیاط ګوري-

دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہو گیا | جس کے حُضُور ہو گئے، اس کا زمانہ ہو گیا

خیر! حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د کعبې چت ته وختلو، اذان یې شروع کړو- د روایت

الفاظ دي: کله چې هغوئي په اذان کښې

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ

ته ورسېدو نو د هغوئي پۀ اواز کښې نور هم زياتوالے راغلو، د روايت الفاظ دي:

وَرَفَعَ صَوْتَهُ كَأَشَدّ مَا يَكُونُ

يعنې حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې څومره زور لګولے شو، څومره چې يې پۀ تېز اواز وئيلے شو، پۀ هٰغه همره تېز اواز يې ووئيل:

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ

ابو جهل کوم چې د دې اُمت فرعون وو، د هغه لور حضرت جُوَيرِيَه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا کومې چې وروستو اِسلام قبول کړے وو، هغې چې کله د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک د کعبې پۀ چت پۀ ټوله مکه مکرمه کښې اورېدونکے واورېدو نو وه يې وئيل:

لَعَمْرِی رَفَعَ لَكَ ذِكْرَكَ

زما دې پۀ خپل ځان باندې قسم وي--!! اے مُحَمَّده صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو ذِکر ستاسو د پاره اوچت کړے شوے دے-(1)

وُہی دُھوم اُن کی ہے ماشآءَ اللّٰہ

مِٹ گئے آپ مِٹانے والے

يو بل وضاحت واورئ! لَعَمْرِی (يعنې زما دې پۀ خپل ځان باندې قسم وي) د عرب مُحَاوَره وه، دې خلقو به عام طور هم داسې وئيل- حضرت جُوَيرِيَه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا کومه چې هٰغه وخت

---

[1]...امتناع الاسماع، جلد:13، صفحه:385-

مسلمانه شوې نۀ وه، ځکه هغې ته مسئله معلومه نۀ وه، ګنې د الله پاک نه علاوه په هیڅ څيز باندې قسم خوړل جائز نۀ دے، مثلاً ◈ زما دې د خپلو بچو په سر قسم وي ◈ د مور په سر قسم ◈ زما په خپل سر باندې قسم ◈ ستا په سر باندې مې دې قسم وي!دا ټول اندازونه نا جائزه دي۔[1]

## د عزت معیار تقویٰ ده

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو لږ په خیال کښې خو راولئ! هغه به څومره ښکلے، څومره ښائسته، نا اشنا منظر وو، د مکے مکرمې وادي ده، محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل شان سره کعبې شریفې ته مخامخ موجود دے، د مکے مکرمې ټولو سردارونو سرونه ښکته کړي دي او حاضر دي او حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د کعبې شریفې په چت باندې ولاړ دے۔

کله چې د مکے مکرمې لوئي لوئي سردارانو دا منظر ولیدو نو د هغوئي زړونه نرم شول، د جهالت د زمانې ټول غرور یې مات شو۔ په ذهنونو کښې یې خیال راتللو چې پرونے غلام، نن د کعبې شریفې په چت باندې اذان کوي (دا سعادت خو چا د اوچتې مرتبې والا ته میلاؤېدل پکار وو)، د هغوئي په ذهنونو کښې دا وسوسې راتللې چې حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام حاضر شو، د قرآنِ کریم دا آیت مبارک نازل شو، الله پاک فرمائي:[2]

---

[1]...بدائع الصنائع، کتاب الایمان، فصل فی الیمین بغیر الله عزوجل، جلد:4، صفحه:60 ماخوذاً۔

[2]... اسباب النزول للواحدی، صفحه:304، رقم:816 بتصرف۔

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ (پاره:26، سورۂ حجرات:13)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بے شکه د الله پهٔ نزد پهٔ تاسو کښې زيات عزت والا هغه دے څوک چې پهٔ تاسو کښې زيات پرهېزګاره دے-

يعنې اے د مکے مکرمې سردارانو--!! عزت، شرف، بزرګي پهٔ مال او دولت نهٔ مېلاوېږي، پهٔ نسبي تعلق سره نهٔ مېلاوېږي، د عزت او شرف دولت د الله پاک پهٔ فضل مېلاوېږي او د هٔغه چا نصيب کيږي کوم چې تقویٰ اِختيار کړي- حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ تاسو کښې تقویٰ والا دے، سابِقُ الاسلام (هُم پهٔ شروع کښې اِسلام قبلوونکے) دے، د الله پاک پهٔ لاره کښې قرباني ورکوونکے دے، ځکه د کعبې پهٔ چت باندې د اذان کولو سعادت هم د هغوئي سره ښائي-

## تقویٰ اختيار کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له هم تقویٰ اِختيارول پکار دي- تقویٰ څهٔ دهٔ؟ د الله پاک نه وېرېدل، د ګناهونو نه بچ کېدل، پهٔ نېکو کښې ژوند تېرول- دا تقویٰ دهٔ- علمائے کرامو چې د تقویٰ کوم وضاحت او تشريح ليکلې دهٔ، د هغې خُلاصه هم دا راووځي- ځکه مونږ له پکار دي چې د الله پاک نه وِېرېدونکي جوړ شو، د ګناهونو نه بچ کېدونکي جوړ شئ شود حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته نصيحت اوکړو او وه يـې فرمائيل: عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ فَاِنَّهٗ جِمَاعُ كُلِّ خَيْرٍ يعنې پهٔ تاسو باندې تقویٰ لازم دهٔ چې ځکه چې تقویٰ د ټولو نېکو مجموعه دهٔ- (1)

1... مسند ابي يعلى، جلد:1، صفحه:324، حديث:1001-

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یاالله! مری جھولی بھر دے(1) |

## د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یو اِیمان تازه کوونکے اذان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ سیرت مبارک کښې د یو ډېر اِیمان تازه کوونکي اذان ذِکر هم مبلاؤېږي- د دې اذان ذِکرِ خیر واورئ او اِیمان تازه کړئ! روایت دے: کله چې د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنیا نه ظاهري پرده وفرمائیله، پهٔ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم باندې ګویا چې قیامت راغلے وو، صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ډېر غمژن شوي وو، حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وصال باندې ډېر خفه وو-

حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خو هسې هم د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُؤَذِّن دے، د موذن او د اِمام پهٔ خپل مینځ کښې بېل قِسمه تعلق وي، حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې اوسېدو، بیا چې کله د الله پاک خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنیا نه ظاهري پرده وفرمائیله نو د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د پاره ژوند ګران شو ◈ هُغه کوڅې پهٔ کومو کښې چې به حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګرځېدو ◈ پهٔ هُغه کوڅو کښې پهٔ تیرېدو به حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ډېر غمژن کېدلو ◈ کله چې به حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسکے کېدلو نو د مدینے منورې پهٔ دروازو او دیوالونو به د نُور شغلې ورېدلې، بیا هُغه دیوالونو ته پهٔ کتو کتو به حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته د الله پاک خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:123-

وریادېدلو۔

حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ شام ملک کښې دے، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یاد یـې دلته ءم کړوي، پۀ جدایی کښې یـې دلته هم زړۀ سوزي۔ اللّٰه! اللّٰه! ورځې به یـې څنګه تېرېدلې، شپې به یـې څنګه تېرېدلې---؟

وہ آ رہے ہیں، وہ آتے ہیں، آرہے ہوں گے | شَبِ فراق یہ کہہ کر گزار دی ہم نے

مخکښې چې به کله د شپې اودۀ کېدلو نو یوه آَسره به وه، یو اُمید به وو چې سحر پاڅېدل دي، مسجدِ نبوي شریف ته حاضرېدل دي، اذان کول دي، بیا به محبوب آقا، خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړي، دیدار به وشي، آه! اوس خو دا آَسره هم ختمه شوه، مخکښې چې به کله زړۀ غوښتل نو پۀ خِدمت کښې به حاضر شو او د دیدن په خوند باندې به یـې سترګې یخې کړې، هیٔ افسوس! اوس چې ځي نو چرته به ځي، اوس محبوب چرته ولټوي---؟

کبھی بیمارِ محبت بھی ہوئے ہیں اچھے | روز اَفزوں ہے مرض، کام دوا نے نہ دیا

حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ جدایی کښې ژوند تېروي، بس اوس هم یو حالت پاتې دے چې غمونه ختمونکے آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کم از کم پۀ خوب کښې خو تشریف راوړي، څۀ داسې خو خپله جلوه راښکاره کړي---

سامنے جَلوہ گر پیکرِ نُور ہو، منکروں کا بھی سرکار شک دُور ہو
کر کے تبدیل اِک دِن لباسِ بشر، دونوں عالم کے سرکار آجائیے!
میرے گلشن کو اک بار مہکائیے، اپنے جلووں کی بارش میں نہلائیے!
دیدۂ شوق کو کیجئے بہرہ وَر، دونوں عالم کے سرکار آجائیے!

یوه شپه چې کله حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ارام فرماو و، په هٔغه شپه هم پته نۀ لګي چې خوب څنګه ورغلو، ګنې محسوس کېدله خو به هم دا چې حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یادونو پۀ ډیوو بلولو شپې کښېسبا کولې، زړۀ هم دا وائي چې کېدے شي پۀ هٔغه شپه حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ بستره ملاست وو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ یاد کښې به مصروفه وو، کله به یې د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلې مُسکا یادوله او مُسکے کېدلو به، کله به یې د هغوئي جدائي رایادوله او ژړېدلو به، بیا به پته نۀ لګي چې کله به یې سترګې ورغلې وې۔

خالِدؔ میں صِرف اتنا کہوں گا، جاگ اُٹھا اشکوں کا مقدر
عِشْقِ نبی میں روتے روتے کیسی کٹی ہے رات نہ پوچھو

د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سترګې پټې شوې، بخت یې رابېدار شو، د زړونو سلطان آقا، محبوبِ خُدا د زړونو سکون آقا، قرار آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل عاشق له د دیدن کولو د پاره پۀ خوب کښې تشریف راوړلو۔

خوږ آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: مَا ھٰذِہِ الْجَفْوَۃُ یَابِلَالُ! اے بلاله---! دا څنګه بے وفائي ده؟ تا زمونږ د زیارت د پاره راتلل هم پرېښودل---؟

الله! الله! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان چې یې واورېدو نو د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سترګې وغړېدلې، سورلۍ یې تیاره کړه او د مدینے منورې پۀ سفر باندې روان شو۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! یو عاشقِ رسول د مدینے منورې پهٔ سفر باندې دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله غوښتلے دے، د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حالت به څهٔ وي؟ دا خو معلومېدے نشي، البته پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هُغه وخت د حالتونو لړ پهٔ خیال کښې د راوستو کوشش خو اوکړئ! ◈ حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به څهٔ سوچ کولو؟ آؤ! آؤ! ډېر زر به زهٔ د مدینے منورې کوڅو ته ورسېږم ◈ ډېر زر به مسجدِ نبوي شریف پهٔ نظر راشي ◈ د مدینے منورې ښکلي دروازې او دېوالونه به وي ◈ د غریبانو آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله بللے دے، جلوه به خو هم ښکاره کړي، د دیدار جامونه به خو هم ورکړي۔

ہے آرزُو یہ دِل کی، میں بھی مدینے جاؤں | سلطانِ دوجہاں کو سب حالِ دِل دِکھاؤں
کاٹوں ہزار چکر طیبہ کی ہر گلی کے | یُوں ہی گزار دُوں میں اَیّام زِندگی کے
پھولوں پہ جاں نثاروں، کانٹوں پہ دِل کو واروں | ذَرّوں کو دُوں سلامی، دَر کی کروں غُلامی
دِیوار دَر کو چوموں، قدموں پہ سَر کو رَکھ دُوں | محبوب سے لپٹ کر روتا رہوں برابر

اللّٰہ! اللّٰہ! پهٔ سفر کولو کولو چې کله حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مدینے منورې کوڅې او دېوالونه لیدلي وي، دا هُغه ساعت دے، کله چې به خوږ آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سفر نه پهٔ واپسۍ باندې سورلي تېزوله، هُغه وخت به د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حالت څهٔ وو؟ پهٔ مدینه منوره باندې ورېدونکے نُور، د هُغه ځائے روښانه روښانه کوڅې او دېوالونه چې حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لیدلي وي نو بے تابه شوے به وي، پهٔ زړهٔ کښې به یې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ دیدار تنده نوره هم زیاته شوې وي، زړهٔ به پهٔ ټوپونو شوے وي، د زړهٔ درزا به یې زیاته شوې وي۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مدینے منورې ته ورسېدو خو آه! حضور، جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جومات کښې نشته، د پاکو بیبیانو په حُجرو کښې هم نشته، آه! غلام یې د شام نه راووغوښتو او پخپله په پرده کښې تشریف فرما دے-

کیوں آنکھ مِلائی تھی، کیوں آگ لگائی تھی

اب رُخ کو چھپا بیٹھے، کر کے مجھے دِیوانہ

حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مزار مبارک ته حاضر شو، خپل مخ یې د مزار مبارک په خاوره باندې مږلو، ژړېدلو به، ګویا دا عرض یې کولو:

اُٹھادو پردہ، دِکھادو چہرہ کہ نُورِ باری حجاب میں ہے

زمانہ تاریک ہو رہا ہے کہ مہر کب سے نقاب میں ہے (1)

د مدینے منورې خلق د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د راتللو نه خبر شوي وو، ډېر صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د موذن سره د ملاقات د پاره حاضر شول، د سلام او دُعا نه پس ټولو ووئیل: بلاله! هغه اذان کوه چې به دې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اورولو، نن یو ځل بیا هغه اذان اوکړه- حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ معذرت اوکړو چې اوس به اذان اونکړے شم، مخکښې چې به مې کله اذان کولو، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَّسُوْلُ الله به مې وئیله، مخامخ به یې د وَالضُّحٰی روخسار زیارت کولو، نن چې به اذان کووم نو د دیدار نه به محرومه یم نو زړهٔ به یې وه نهٔ زغملے شي، آه! نن ما د دې فرمائش نه معاف کړئ! صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم اِصرار کوی او حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِنکار

---

[1] ...حدائقِ بخشش، صفحه:180۔

کوي، پهٔ دې کښې د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلو وړو نمسو اِمامِ حَسَن او اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما تشریف راوړلو، حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهزادګان سینې ته راجُخت کړل، محبت یې ورسره اوکړو، بیا شهزادګانو ووئیل: بلاله! زمونږه نیکه بابا جان، رحمتِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته به چې دې کوم اذان اوړولو، نن هُغه اذان بیا اوکړئ! د دې شهزادګانو خبره به څنګه ښکته غورځولے کېدله- حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهزادګانو پهٔ حکم باندې سر ټیټ کړو، د اذان کولو ځائے ته یې تشریف یوړلو، پهٔ غوږونو باندې یې لاسونه کېښودل او پهٔ ډېر دردمند انداز کښې یې ووئیل: اَللّٰہُ اَکْبَرُ، اَللّٰہُ اَکْبَرُ-

د اذان دا خوږ اواز چې کله پهٔ مدینه منوره کښې واورېدے شو نو د مدینے منورې زمکه پهٔ لړزېدو شوه، غم راخور شو، خلقو چغې شروع کړې، د مدینے د سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ یاد کښې زړونه نا قلاره شول، وارهٔ ماشومان خپلو مئیندو ته ورغاړه وتل او پوښتنه یې اوکړه: مور جانې! حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو راغلو، زمونږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به کله تشریف راوړي؟

حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اذان کولو، پهٔ مدینه منوره کښې د قیامت منظر وو، کله چې حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ووئیل: اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰہ- نظر یې پورته کړو، نُوراني منبر ته یې وکتل، آه! منبر خالي وو، حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ یاد کښې لړزېدو، زړهٔ یې بے قابو شو او د غم د وجې نه بے هوشه شو او زمکې له یې تشریف یوړلو- (1)

---

[1] ... سیر اعلام النبلاء، جلد:3، صفحه:222، زُلف زنجیر، صفحه:74تا77-

تمھارے ہجر میں کیوں زندگی نہ مشکل ہو | تم ہی جگر ہو، تم ہی جان ہو، تم ہی دِل ہو
دِل ہجر کے درد سے بوجھل ہے، اب آن ملو تو بہتر ہو
اس بات سے ہم کو کیا مطلب، یہ کیسے ہو! یہ کیوں کر ہو!

## پهٔ زړهٔ کښې عشقِ رسول زیات کړئ!

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا د عشقِ رسول کیفیات دي، اللّٰه پاک دې زمونږ هم د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د عشق نه څهحصه نصیب کړي- پهٔ خپل زړهٔ کښې عشقِ رسول زیات کړئ! د عشقِ رسول شمع پکښې نوره هم روښانه کړئ ◈ درودِ پاک لولئ! ◈ پهٔ سُنَّتو باندې روان شئ! ◈ د قرآنِ کریم د تِلاوت عادت جوړ کړئ! ◈ د شپې یواځې کښېنئ، د ګنبدِ خضراء خیال پهٔ ذِهن کښې راولئ او د سوز نه ډک نعتونه اورئ! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پهٔ سیرت باندې لیکلے شوي کتابونه لولئ! ◈ د صحابهٔ کرامو عَلَیہِمُ الرِّضْوَان سیرت لولئ! ◈ د اولیائے کرامو سیرت پهٔ خاص توګه د هغوئي د عشقِ رسول والا کیفیات لولئ! اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! پهٔ زړهٔ کښې به مو د عشقِ رسول شمع بله شي-

جاہ و جلال دو نہ ہی مال و منال دو | سوزِ بِلال بَس مری جھولی میں ڈال دو
دُنیا کے سارے غم میرے دِل سے نِکال دَو | غم اپنا یانبی مجھے بہرِ بِلال دو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حشر پهٔ مېدان کښې د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان چرچې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان هم څومره ځانګړے شان دے---!! د قیامت پهٔ ورځ باندې به د هغوئي شان او عظمت څنګه وي، روایت واورئ! يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام ذِکر فرمائیلو، د قیامت پهٔ ورځ به د انبیائے کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم شان څهٔ وي، دا موضوع وه، پهٔ دې لړ کښې د غیبو نه خبر نبي، مکي مدني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: حضرت صالح عَلَیْہِ السَّلَام به د قیامت پهٔ ورځ پهٔ خپله اوښه باندې ناست وي، زهٔ به پهٔ آس باندې ناست راځم، بیا هغوئي د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ طرف ته مخ کړو او وه یې فرمائیل: د بلال به دا شان وي چې پهٔ جنتي اوښه باندې به ناست وي، اذان به کوي او د حشر مېدان ته به را روان، د بلال د اذان اواز به ټول مخلوق اوري، هُغه وخت به انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلام هم بلال ته ګوري، کله چې بلال اذان مکمل کړي نو هغوئي ته به جنتي جامې واغوستلے شي- **د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام او د شهیدانو نه پس به بلال وړومبے کَس وي کوم ته چې به جنتي جامې مېلاؤېږي-** (1)

سُبْحٰنَ اللہ! څومره ښکلے شان دے د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ---!! ګویا د قیامت پهٔ ورځ باندې به هم د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان چرچې کیږي، ټول د محشر والا به د سوز نه د ډک دې اذان نه خوندونه اخلي- الله دې کړي چې زمونږه هم پهٔ اِیمان باندې مرګ نصیب شي- اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله به

---

[1] ...تاریخ مدینه دمشق، جلد:10، صفحه:459تا460-

مونږه هم د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اذان اورېدو خوندونه اخلو-

## د اذان کولو عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اذان د دين پيژندګلو ده. نن سبا زمونږ په جوماتونو کښې عموماً مؤذن مقرر وي، بيا هم مونږ ته پکار دي چې کله کله يا که موقع نصيب شي نو هره ورځ د هغوئي نه اجازت واخلو او د اذان کولو سعادت حاصل کړو- يو څو احاديثِ کريمه واورئ!

◈ پهٔ معجمِ کبير کښې حديث دے: د ثواب د پاره اذان کوونکے د هُغه شهيد پهٔ شان دے کوم چې پهٔ وينو کښې لړلے شوےوي او کله چې مړ کيږي، پهٔ قبر کښې به د هغهٔ پهٔ وجود کښې چينجي نهٔ کيږي-(1)

◈ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د پينځه واړو نـمونځونو اذانونه د اِيمان پهٔ وجه د ثواب پهٔ نيت ووئيل، د هغه وروستني ګناهونه به معاف شي(2) ◈ پهٔ يو حديث شريف کښې دي: هر وچ او لوند څيز د کوم پورې چې د اذان اواز رسيږي، هغه د اذان کوونکي د پاره د بخښنې دُعا کوي-(3)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې څومره فضيلتونه دي، مونږ له پکار چې د حضرت بلالِ حبشي د ادا د ادا کولو د پاره، د کلمهٔ حق پورته کولو د پاره، د نيکو د ګټلو، د

---

1...معجم کبير، جلد:6، صفحه:242، حديث:13378 ـ

2...سنن کبریٰ للبيهقي، جلد:1، صفحه:809، حديث:2039ـ

3...ابن ماجه، کتاب الاذان والسنة فيها، باب فضل الاذان...الخ، صفحه:124، حديث:724ـ

ګناهونو د بخښلو د پاره او د جَنَّت د حقدار جوړېدو د پاره اذان کوو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

که تاسو د اذان کولو، د اورېدو د نورو فضيلتونو نه ځان خبرول غواړئ او په دې باره کښې د نورو معلوماتو د زده کولو شوق لرئ نو د امیرِ اهلِسُنَّت مختصره رساله فيضانِ اذان ولولئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو دِيني کار: مدرسةُ الـمدينه بالِغان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ګناهونو نه د نفرت د جذبې پيدا کولو، د نيک نـمونځ ګزاره جوړېدو د سعادت موندلو دپاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ژوند به مو ښه شي، که الله پاک وغوښتل نو د دُنيا نه به د بے رغبتۍ دولت هم درنصيب شي او اَخلاق او کردار به مو هُم ښه شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرسةُ الـمدينه بالِغان هم دے په کوم کښې چې د صحيح تجويد او قراءَت سره قرآنِ پاک زده کولے او ښودلے شي-

په حديثِ پاک کښې دي: په تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته يـې] وښائي- (1) ◈ قرآنِ مجيد د الله پاک کتاب دے ◈ د بندګانو په نوم د رَبِّ کريم پيغام دے ◈ خو افسوس! نن مسلمانان د قرآنِ کريم نه ورځ په ورځ لرې کيږي ◈ ډير خلق په

---

1... بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من ...الخ، صفحه:1299، حديث:5027-

کتلو هم صحيح قرآنِ مجيد نه شي لوستلے ◈ خوک يـې چې لولي هغوئي هم پۀ تجويد او مخارج کښې داسې غلطيانې کوي، چې د هغې پۀ وجه يـې نـمونځ هم نه کيږي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي پۀ مختلفو جوماتونو او مارکيټونو وغيره کښې روزانه د مدرسةُ الـمدينه بالِغان پۀ کلاسونو لګولو او د قرآنِ کريم پۀ فيضان عام کولو کښې مصروف دے ◈ پۀ کومو کښې چې پۀ صحيح تجويد او مخارج سره قرآنِ کريم لوستلے او ښودلے شي ◈ فرض عُلُوم هم ښودلے شي ◈ سُنَّت او آداب هم ښودلے شي او ◈ د ترجمې او تفسير اوريدو موقع هم ميلاويږي- تاسو هم پۀ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي- راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو-

## د فيشن کوونکي پۀ ژوند کښې سپرلے راغلو

د آفندي ټاؤن (حيدر آباد، انټيرئير سنده، پاکستان) د اوسيدونکي يو اِسلامي ورور بيان دے: چې زۀ يو ف فيشني ځلمے ووم، د دُنيا پۀ موج مستۍ کښې ورک، د خپل اخِرت د انجام نه مې غافله د ژوند ورځې شپې تيرولې، زما د ګناهونو نه پۀ ډک ژوند کښې سپرلے څۀ داسې راغلو چې زما پۀ مدرسةُ الـمدينه بالِغان کښې د داخلې سعادت نصيب شو، بس بيا زما د نيک بختۍ سفر شروع شو، د مدرسةُ الـمدينه بالِغان برکتونو زما تيارۀ ژوند د الله پاک پۀ ويره او د مصطفٰے کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عشق روښانه کړو، پۀ دې کښې ما ته د قرآنِ پاک د تعليم سره سره پۀ سُنّتو باندې د عمل کولو جذبه هم نصيب شوه او پۀ هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو سعادت هم رانصيب شو- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پۀ مدرسةُ الـمدينه بالِغان کښې د لوستلو پۀ برکت زما پۀ ژوند کښې سپرلے راغلو، د فيشن کولو، او د موج مستۍ نه خلاصے هم رانصيب شو-

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولیٰ دیا مدنی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول |
| دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مَدنی ماحول (1) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## القرآن الکريم موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د ټيکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک **دعوتِ اِسلامي** د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د عِلمِ دِين عام کولو کوشش کوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کېشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem*** (القرآن الکريم) دے- په دې ايپلي کېشن کښې ◈ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ◈ او د مختلفو قاريانو په اوازونو کښې د قرآنِ پاک اورېدلو سهولت موجود دے ◈ دې سره سره يو خاص سورت يا آيت ***Bookmark*** کېدے هم شي يعني بيا بيا لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** کېدو سره په اسانۍ سره لوستلے کېدے شي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې تقريباً د 10 لاکو نه زياتو کسانو دا ايپلي کېشن ډاؤن لوډ کړے دے- تاسو هم دا ايپلي کېشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، بخپله ترېنه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه: 648647-

## یو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چینل د شپې پاؤ کم لس [ 9:45] بجې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې دیني رسالې لوستلو ترغیب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **فیضان حضور مفتي اعظم هند** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدینه د سید الشُهداء اِمامِ عالي مقام حضرت اِمام حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سیرت او فضیلتونو او کراماتونو ډیر ښکلے کتاب **شان اِمامِ حُسَین** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چاپ کړے دے- دا کتاب د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه پهٔ **100 روپۍ** پهٔ بیعه حاصل کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه

زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامین مبارک دي**: **(1)**: څوک چې وعده نهٔ پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته- (2) **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي اوکړي په هغه باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے- (3)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** وعده پوره کول د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام سُنَّت دي ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په خپله وعده کلک ولاړ وو او ◈ وعده ماتول به يې نهٔ خوښول ◈ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو ګس نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو ودرېږئ! زهٔ دا دے اوس راځم، هٔغه ګس لاړو خو واپس راتلل ترېنه هېر شول، 3 ورځې پس هغه ته بيا وریاد شول، چې کله هغه هٔغه ځائے ته راورسېدو نو حېران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تېرېدو باوجود هم په ھغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَالله! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې وګورئ! چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٔغه ګس وه نهٔ رټلو او نهٔ په جلال کښې راغلو، بس دومره يې وفرمائيل: اے سړيه! تا زهٔ په

---

1 ...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2 ...مصنف اِبْنِ اَبِي شیبه، کتاب: الایمان، جلد:7 صفحه:223-

3 ...بخاری، کتاب: جِزْیه، صفحه:815، حدیث:3179-

مشقت کښي واچولم- [1] الله پاک دې مونږ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او وه یـې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښي د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدۃ، صفحه:781، حدیث:4996۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعې او زیارت پهٔ مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [(1)] راځئ چې مونږ هم پهٔ شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه نه روایت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودریدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. [(2)] راځئ چې مونږ هم پهٔ

---

[1] ... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً۔

[2] ... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:65۔

شریکه دا دُرُود ووائیو.

### ﴾3﴿ د رَحمت اویا دروازې:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغهٔ به د رَحمت اویا دروازې برسیره کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه ووائیو.

### ﴾4﴿ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَمَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃُاللہِ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه یې ووائیو.

### ﴾5﴿ د خوږ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم وفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي.[3] راځئ چې مونږ یې هُم په شریکه

---

1...قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

2...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

3...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوایت دے چې مَدَني آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي.[2] راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر یې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو-[3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شریکه ووائیو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د

1...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکْرِ وَالدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

2...مَجْمَعُ الزَّوَائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَه، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

3...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415

اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش **رَبّ**)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**